عبدالباری جهانی ۲۰۲۱/۱۲/۲٤

# ځرنګه شعر ولیکو؟

شعر له موزونو او منظومو کلماتو څخه جوړ کلام وي، چي د تولني واقعیتونو او د شاعراحساساتو ته انعکاس ورکوي. او همدغه موزونیت دی چي شعر له نثر څخه بېلوي او کلمات یې په غوږونو کي شرنګی کوي او زیاتره ښه لګیږي. خو توپیر یې د رباب او سارنګ له شرنګ سره دادی چي رباب او سارنګ ژبه نه لري. پښتو رباب، فارسي رباب، اُردو رباب او... رباب نسته. موږ نه پوهیږو چي رباب او سارنګ څه وایی؛ ځکه چي هغوی ژبه نه لري او یوازي شرنګ او سُرلري. هر څومره چي د موسیقی د پارچي سُر او تال برابر وي په هغه اندازه پر غوږونو ښه لګیږي.

خو شعر په مشخصه او ټاکلي ژبه لیکل کیږي او په هغه ژبه خپلو اورېدونکو او لوستونکو ته پیغام ورکوي. اورېدونکی او لوستونکی باید لومړی پوه سي او بیا نو واه واه ورته ووایی او یا منفی نظر ورکړي. زما په عقیده د شعر پیغام او د کلماتو ښکلا او پر ځای استعمال دواړه په یوه اندازه اهمیت لري. که شعر د کلماتو له ښکلا، اشارو او استعارو څخه بې برخي کړو بیا نو که هر څومره قوي پیغام هم ولري هغه به عادي نظم وي او شعري ارزښت به یې دونه کم وي چي سړی به یې شعر نه سي بللای. او که برعکس، پیغام د ښکلیو کلماتو، استعارو، اشاراتو او پېچلو مفاهیمو قرباني کړو او له یوه ښاخ څخه بل ته غورځو؛ ښایي پر غوږونو به ښه ولګیږي، ځیني اورېدونکي به حتی سرونه ورته وښوروي او واه واه به ورته ووایی مګر که له اورېدونکو څخه د شعر د پیغام په برخه کي پوښتنه وسي نو ښایی چي لس تنه اورېدونکي به لس ډوله تعبیرونه وړاندي کړي. کاظم شیدا ډېرښه ویلي دي:

مضمون د شعر لکه پیکر دی      رنګین الفاظ یې رخت و زېور دی
ورته ضرور دي دا دواړه توکي      پیکر که هر څو دلربا تر دی

خو زما په عقیده، ځرنګه چي شعر مخاطب لري او مخاطب یې لوستونکي او اورېدونکي دي نو پیغام تر ښکلا مهم دی. هر شعر باید پیغام ولري. حتی غزل، چي هر بیت یې، ځیني وختونه بېله موضوع لري، هم باید ځرګند پیغام او هدف ولري او پر غوږونو یې د رباب د شرنګ له لګېدلو سره توپیر وسي.

د رحمن بابا شعر ولي تر اوسه ژوندی دی؟ خوشحال خان ختک ولي د پښتنو او پښتو ادب پلار بلل کیږي؟ یو او مهم علت یې دا دی چي د دواړو په شعرونو کي پیغام ته لومړی درجه او کلماتو او ښکلا ته دوهمه درجه ارزښت ورکړه سوی دی. د رحمن بابا د شعر کمال د هغه د سادګی، روانی، ښکلا او پیغام متوازن حرکت دی.

هغه ښکلي الفاظ او کلمات چي کاظم خان شیدا کارولي دي او د مفاهیمو هغه عمق چي د ده په اشعارو کي پروت دی، د پښتو ژبي په کلاسیک ادب کي یې چنداني چا سیالي نه ده کړې.

کړه یې وا لکه ګره د تورو زلفو      باریکي لري تمام دېوان زما


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

مګر ولي، ښتانه لوستونکي او ادب پوهان، د پښتو په کلاسیک ادب کي، نه د رحمن بابا، نه د خوشحال ختک، نه د حمید ماشوخېل او حتی نه د عبدالقادر خان ختک او نورو په درجه ورته قایل دي. علت یې هماغه د ده خپله خبره ده چي تمام دېوان یې له باریکیو ډک دی او په باریکیو یوازي باریک بین خلک پوهیږي. خو د کاظم خان شیدا شعر او د هغه عالي مفاهیم له هغو اوسنیو شعرونو سره چي سړی یې په هیڅ توګه په تعبیر نه پوهیږي او یوازي د ښکلیو کلماتو او ترکیبونو یو لاړ وي له هیڅ پلوه د مقایسي وړ نه دي. دا نوي شعرونه، چي زه وایم خدای دي د نورو او اکثریت شاعرانو نه ورته پام کوي، د هیچا د پوهېدلو او هضمولو وړ نه دي. زه د تقریباً شپېتو کالو راهیسي شعر لیکم او ټول عمر مي فارسي، پښتو، اردو او انګلیسي شعرونه لوستي دي مګر، پرته له هیڅ ډول مبالغي، ویلای سم چي، د دې نویو شعرونو او ایجاداتو، په څو ځله لوستلو یې په معنا نه پوهېږم. بس کلمات وي، شرنګ وي، آه او اوف وي. نور نو سړی نه پوهیږي چي ولي آه ولي اوف؟ کله کله داسي ښکاري لکه د ښایستو رنګونو په ترکیب کي چي اصل تصویر پټ وي او سړی پوه نه سي چي نقاش څه غوښتل.

مغلق او پرله پېچلي او کله کله بې مفهومه شعرونه د دې لپاره لیکل کیږي چي شاعر غواړي خپلو لوستونکو او اورېدونکو ته د خپل هنر او ضمناً د عقل کمال وښیي. کله کله د دې لپاره لیکل کیږي چي شاعر د څرګند پیغام له ورکولو څخه، د مختلفو عواملو له مخي، وېره لري. کله کله هم شاعر بې موضوع وي او د لیکلو لپاره څه نه لري ځکه نو خپل لاسونه په رنګونو ولړي او د کاغذ مخ په رنګین کړي. کله کله او حتی اکثر وختونه په دې عواملو کي یو هم نه وي او ځوان شاعران زیاتره د نورو شاعرانو د رنګینو کلماتو تر اغیز لاندي راغلي وي او کوښښ کوي چي د ده شعر د نورو تر شعرونو هم مغلق سي او خلک یې پوهي او شاعری ته ګوته په غاښ ونیسي.

د مثال په ډول زه دادی اوس یو آزاد شعر لیکم چي مخکي  مي هیڅ فکر نه دی پکښې کړی او که ریشتیا درته ووایم په مفهوم یې هم ځکه نه پوهیږم چي د هیڅ هدف لپاره مي لیکلی نه دی. تاسي یې وګوری چي له هغه څخه څه راباسی. که د کلماتو له پلوه ورته وکتل سي؛ نو خورا شاعرانه کلمات، که څه هم په ډېر تلوار، پکښې ځای سوي دي مګر که د پیغام له اړخه ورته وکتل سي نو چي شاعر پخپله نه په پوهیږي په دې شعر به څوک پوه سي.

زه د لمر په کجاوه کي د سپوږمۍ تر کلي ولاړم

له ګودر څخه مي رنګ د رنجو واخیست

له پایېو نه مي شرنګ د ګونګرو واخیست

څاڅکي څاڅکي مي د اوښکو

د نرګس او د غاټول له سترګو توی کړل

د آرزو له پیغلو سترګو یوه اوښکه

د ایوب تر لوند ګرېوانه

نوح ته ولاړم تر توپانه

د موسی همسا ته ولاړم

ښاماران مي تېرولـه

فرعونان مي ډوبوله


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالي دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

په لمبو د کوه طور کي نښېدمه

زه په خيال کي شاه جهان د دي جهان وم

زه ملنګ عبدالرحمن وم

لکه سپر د خوشحال خان وم

ما د خضر پر چينه مړي ليدلي

تاوېدم لکه پيچک له ارغوانه

بس پردی وم بس بی واکه وم له ځانه

لکه شمع په خپل ځان کي ويلېدمه

لکه اوښکه بي هدفه رغړېدمه

نه پيچک نه ارغوان يم

بس دښمن مي د خپل ځان يم

بي هدفه مسافر يمه روان يم

آه د لمر کجاوه څه سوه؟

زما د آه جنازه څه سوه؟

د سپوږمی کلي ته نه ورځي وګړي

ما د خضر پر چينه ليدلي مړي

اوس چي هر مُلا ته وايم خپل خوبونه

وايی خوب د لېونو دی

لېونوته په کار نه دي تعبيرونه.

دا شعر چه سړی هر څومره اوږدوی هغومره اوږديږي؛ ځکه چي هيڅ هدف نه لري او د هري ښايستي کلمي د کارولو لپاره ځای لري.

په دي وروستيو ورځو کي مي د افغان جرمن په ويب سايټ کي دوه شعرونه ليدلي دي. دواړه د داسي ځوانانو دي چي زه يي له شعری استعداد سره مينه لرم. خو له بده مرغه، په دواړو شعرونو کي، د يوه په مفهوم لا نه يم پوه سوی. ډېر ښکلي کلمات يي اوډلي او زه پوهېږم چي د هر شعر په ليکلو به يي ډېر زيات وخت ( ضايع ) کړی هم وي. مګر کله چي د څه باندي اويا کالو په عمر د پښتو ژبي يو شاعر د هغه له معنا او مفهوم څخه عاجز سي نو دا شعرونه يي د چا لپاره ليکلي دي؟ خو څرنګه چي د پښتو په ژبه کي يوازي تقريظونه ليکل او شاباس ويل رواج لري نو زه د هغوی د


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولېږئ: info@arianafghanistan.com

نومونو له ذکرولو څخه ډډه کوم. هسی نه چي را ته په قار یا لړ ترلړه خوابدي سي. خو خدای دي وکړي چي زما پيغام ته هم يو څه توجه وکړي.



برای مطالب دیگر عبدالباری جهانی روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالي دي آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com